## د امریکا لپاره د مرکزي آسیا اهمیت

## (ژباړه)

امریکا مرکزي آسیا ته هم د نورو اسلامي خاورو په څېر ګوري. دا لید پر دغه بنسټ ولاړ دی، چې مرکزي آسیا څنګه کولی شي چې د امریکا جیوپولیتیکي ګټې خوندي کړي. امریکا ته مرکزي آسیا د همدغه لیدلوري له مخې اهمیت لري. په عمومي ډول دغه سیمه د نادرو او مختلفو طبیعي سرچینو، د انرژۍ د پراخو امکاناتو او د روسیې او چین د محدودیت د ظرفیت له مخې ستراتیژیک اهمیت لري، څکه دغه هېوادونه هڅه کوي چې خپلې جیوپولیتیکي ګټې خوندي کړي.

د دغو مواردو په پام کې نیولو سره، په ځانګړې توګه د روسیې او اوکریان د جګړې په شالید کې، ځینې څېړنیز او فکري بنسټونه وړاندیز کوي، چې د امریکا دولت دې مرکزي آسیا ته ډېر پام وکړي. دغه وړاندیزونه د مختلفو عواملو پر بنسټ کېږي؛ د بېلګې په توګه د امریکا یو څېړنیز مرکز «د مسوول حکومت هنر (Responsible Statecraft)» له ټاکل شوي ولسمشر ډونالډ ټرمپ څخه غوښتي، چې د خپلې ولسمشرۍ د دویمې دورې په پیل کې مرکزي آسیا ته پام وکړي. دغه راپور ټینګار کوي؛ په داسې حال کې چې د اوکراین جګړې، د تایوان مسلې او سوداګریزو شخړو نړیوال تمرکز خپل کړی، نو مرکزي آسیا د امریکا د ګټو په خوندي کولو کې مهم رول لوبولی شي.

د شنونکو په وینا امریکا تراوسه له دې سیمې سره، چې روسیه او چین پکې فعال دي، قوي اړیکې نه دي جوړې کړې. مرکزي آسیا پراخې سرچینې او د لېږد رالېږد لپاره ارزښتمنې ستراتیژیکي لارې لري. دې سیمې ته د ټرمپ سمبولیک سفر کولی شي، چې دلته د واشنګټن موقف پیاوړی کړي او پر نړیوالو اکمالاتي ځنځیرونو او د انرژۍ پر تبادلو اغېز وکړي. له همدې امله شنونکو ټاکل شوي ولسمشر ته وړاندیز کړی: «ټرمپ باید لومړی مرکزي آسیا ته سفر وکړي!» دوی پر دې باور دي چې د ډیپلوماتانو له مهارتونو پرته، هېڅ شی د رهبرانو د مخامخ لیدنې په اندازه په بریالیو مذاکراتو کې اغېزناک نشي ثابتېدلی. د امریکا ګټون د هغې رېلپټلۍ په جوړولو کې چې له افغانستان څخه تېرېږي، کولی شي چې د افغانستان له امنیت، د ګاونډیونو هېوادونو له اقتصادي پراختیا، د امریکایي سوداګرۍ لپاره له نویو فرصتونو او په سیمه کې د واشنګټن له نفوذ سره مرسته وکړي. دغه پروژه به مرکزي آسیا د پاکستان له کراچۍ، ګوادر او قاسم بندرونو سره ونښلوي، زرګونه کاري فرصتونه به رامنځته کړي او د افراطي ډلو ټولنیز بنسټ به کمزوری کړي.

د ازبکستان اټکلونه ښيي چې د افغانستان له لارې د ۷۶۰ کیلومتره رېلپټلۍ به پاکستان ته د توکو رسولو وخت شاوخوا پنځه ورځې راکم کړي او د لېږد رالېږد لګښتونه به لږ تر لږه ۴۰ سلنه راټیټ کړي. تمه کېږي دا پروژه چې تر ۶ میلیارده ډالرو پورې لګښت پرې راځي، د ۲۰۲۷م کال تر پای پورې بشپړه شي. همدارنګه وړاندوینه کېږي چې تر ۲۰۳۰م کال پورې به رېلګاډي له دې لارې هر کال تر ۱۵ میلیون ټنه پورې توکي لېږدوي. دغه نوې رېلپټلۍ به د اروپايي ټولنې غړي هېوادونه، روسیه، ازبکستان او افغانستان د پاکستان له بندرونو سره په عرب سمندر کې ونښلوي، ترڅو توکي منځنې ختیځ او د آسیا سویل ختیځ ته صادر شي. پر دې سربېره مرکزي آسیا د مهمو فلزاتو پراخې سرچینې لري؛ لکه مګنیزیم، کروم، سرب، زینک او ټیټانیم چې د شنې ټکنالوژۍ لپاره اړین بلل کېږي. د چین لخوا د دغو فلزاتو په صادرولو کې وروستي محدودیتونه

ښايي امريکا اړ کړي، چې دغو سرچينو ته د اوږدمهاله لاسرسي لپاره له دې سيمې سره، د «C5+1» ډلې له لارې خپلې اړيکې پراخې کړي.

همدارنګه د جکسون-فانيک تعديل د لغوه کېدو غوښتنې هم شته او دغه تعديل په ۱۹۴۷م کال کې تصويب شو او د مرکزي آسيا په څلورو هېوادونو (ازبکستان، قزاقستان، ترکمنستان او تاجکستان) کې لا هم عملي کېږي. دغه تعديل د امريکا په سوداګرۍ قانون کې د غير بازاري اقتصاد لرونکو هېوادونو پر وارداتي توکو ځانګړې تعرفې او ماليات لګوي او دولتي پورونه او اعتباري ضمانتونه بندوي. شنونکي په دې باور دي چې دغه ډول خنډونه کولی شي چې د امريکا لخوا د مرکزي آسيا له سترو ظرفيتونو څخه بشپړه ګټه اخيستنه او په دې سيمه کې د هغې ځواکمن نفوذ محدود کړي.

د امريکا لپاره د مرکزي آسيا د اهميت ارزولو په برخه کې بايد د روسيې د جيوپوليتيکي فعاليتونو په محدودولو کې د دې سيمې رول ته اشاره وشي؛ هغه هېواد چې لا هم د دې سيمې له هېوادونو څخه د غربي بنديزونو پر وړاندې استفاده کوي. په بل عبارت، دا مسله د کرملين لپاره د مرکزي آسيا هېوادونو د مرستو په څرنګوالي کې د ليدو وړ ده، چې څه ډول د روسيې خلاف د غرب د پراخو بنديزونو مخه نيسي. په داسې حال کې چې ډېری سوداګريزې لارې د روسيې پر مخ تړل شوې دي، خو دغه هېواد يوازې د مرکزي آسيا له لارې "تنفس" کولی شي. پر دې سربېره چين د خپلې لوېې پروژې «يو کمربند، يوه لار» لپاره ميلياردونه ډالر لګوي، چې له همدې سيمې څخه تېرېږي. څرګنده ده که چېرې امريکا په مرکزي آسيا کې خپل نفوذ زيات کړي، د روسيې او چين لپاره به ډېرې ستونزې رامنځته شي.

يو بل لامل چې د يادونې وړ دی هغه دا دی، چې مرکزي آسيا د اسلامي خاورو يوه نه بېلېدونکې برخه ده. تاريخ ښيي چې په دې خاوره کې ستر عالمان او نړيوال مشهور نظامي قوماندانان راټوکېدلي دي او د کفارو په زړونو کې يې وېره اچولې ده. د ۱۹۹۰م لسيزې په لومړيو کې د کمونيستي نظام له نسکورېدو وروسته د دې سيمې مسلمانانو په جدي توګه د هغه وخت له دولتونو څخه د اسلامي حکومت غوښتنه وکړه. له شک پرته چې په منځني ختيځ کې اوسنی وضعيت په ځانګړې توګه د سوريې پېښې به د مرکزي آسيا پر مسلمانانو اغېز وکړي. د سيمې د استبدادي حکومتونو د ظالمانه او وحشيانه سياستونو په پايله کې خلک د هغوی پر وړاندې په تدريج سره په پټه او ښکاره اعتراض کوي. دا وړاندوينه سخته ده چې د دې سيمې "د باروتو د بشکې چاودنه" به څه وخت پېښېږي؛ هغه چاودنه چې پايلې به يې هم د اوسنيو حکومتونو او هم د امريکا او روسيې لپاره د تمې خلاف وي. دغه چاودنه ښايي يوازې تر مرکزي آسيا پورې محدوده پاتې نشي او د يوه پراخ قيام احتمال شته، چې په تکبير سره به اسلامي شعارونه ورکوي او تر ګاونډي افغانستان او ان پاکستان پورې به ورسېږي. البته د امريکا په څېر د ستراتيژيک فکر لرونکی هېواد په مرکزي آسيا کې د "چاودنې" دغه ډول وړاندوينې له پامه نه شي غورځولی.

د امريکا لپاره د مرکزي آسيا اهميت دغه ډول خلاصه کېدلی شي: که څه هم مرکزي آسيا د امريکا لپاره د ژوند او مرګ مسله نه ده، خو دغه هېواد دې سيمې ته د خپلو جيوپوليتيکي ګټو د خوندي کولو او د خپلې نړيوالې هژموني د ساتلو لپاره د يوې ستراتيژيکې برخې په توګه ګوري. مرکزي آسيا د اسلامي خاورو يوه نه بېلېدونکې برخه ده او د دې سيمې مسلمانان زړور خلک دي، چې له اسلام سره مينه لري او غواړي ژوند ورسره وکړي او په دې لاره کې د خپل ژوند قرباني کولو ته چمتو

دي. دغه خاورې چې ډېر ژر به د نبوت پر منهج د راشده خلافت برخه وي، د اسلام لپاره به یوه ستراتیژیکه سیمه ګڼل کېږي او د الله سبحانه وتعالی په مرسته به د روسیې او چین په محاصره کولو کې مهم رول ولوبوي.

﴿وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ (۴) بِنَصْرِ اللَّهِ يَنصُرُ مَن يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ﴾ [روم: ۴-۵]

**ژباړه:** *«په هغه ورځ مومنان خوشالېږي. (هو، خوشالېږي) د الله په مرستې سره. الله له هر هغه چا سره مرسته کوي، چې خوښه یې شي او هغه برلاسی (پر خپلو دښمنانو) او ډېر مهربان (پر خپلو دوستانو) دی.»*

**د الر ایه جریدې له ۵۲۸ ګڼې څخه**

**لیکوال: استاد أبوخلیل - ازبیکستان**

**ژباړن: صهیب منصور**